# Pakhtoonkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه

۲۷ ګڼه   2005 کال

**Jahrg./vol: 19 nummer/ no: 27**




**PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA**

**خپرونکي:** د پښتنو ټولنيز اولسوليز گوند پښتونخوا/ افغانستان

***Herausgeber*:** Sozialdemokratishe Partei der Paschtunen Pashtunchwa/Afghanistan

***Publisher*:** Pashtoons Social Democratic Party (PSDP) Pashtoonkhwa/Afghanistan

**ذمه وار**

V.S.I.P

Responsible for contents

**ډاکټر کبير ستوري**

**Dr.Kabir Stori**

Richard str. 5

50389 Wesseling

Germany

Tell:0049-2236/83463

Fax:0049-2236/841930

E-mail :psdp@pashtoonkhwa.com

**د خپرونې جرگه:**

عليخان محسود

هدايت بنگش

مبارز ځاپي

عزيز سرشار

حاجي نصير ستوري

گل غوټۍ کونړۍ

**Redaktion:**
**Editorial Board:**
Ali khan Mahsood
Hidayat Bangash
Mabriz Zapi
Aziz Sarshar
Haji Nasir Stori
Gulgutai Kunarai

*E-mail :psdp@pashtoonkhwa.com*




| سرليکونه | ليکوال | مخ |
|---|---|---|
| نړۍ وال پښتو ادبي کنونشن ته د ډاکټر کبير ستوري وينا | | ۲ |
| امريکه، مجموعي تنفر او برقي خلاقت | ډاکټر رحمت ربي زيرکيار | ۶ |
| پښتو او د پښتنو مضر احتياط | پوهنيار محمد اسماعيل يون | ۳۰ |
| په پېښور کې د ډاکټر کبير مصروفيات | لايق زاده لايق | ۴۴ |
| د محمد دين مقيد په ياد شعر | ډاکټر کبير ستوري | ۵۲ |
| پيغام | | ۵۳ |
| ملاتړ، ستاينه، مبارکي | عزيز سرشار | ۵۴ |






# نړۍ وال پښتو ادبي کنونشن ته

## د

## ډاکټر کبير ستوري وينا

د لوی او ښښونکي خدای په نامه.

درنـو پښتنـو مشـرانو، محترمـو خوېنـدو، عزتمنـدو ليکوالانو، اديبانو، شاعرانو او ملگرو!

د افغانسـتان د جگـړې لـه کبلـه ډېـر پښتانـه جـلا وطـن شـوي دي. اوس پـه يـورپ، امريکـا او نـورو هېوادونـو کـې د دوی دوهـم کـول (نسـل) پـه ځوانېـدو دی. د بلـې خـوا پـه نـړۍ کـې سياسـي، اقتصـادي او تخنيکـي بـدلون پيـل شـوی دی، چـې نـړۍ يـو کلـی گـرزي. دغـه بـدلون پـه ژبـه چـې يـوازې د پوهېـدلو او پوهولـو وسـيله نـه ده، بلکـې د قـامي پېژنـد نښـه او سوچ يا فکر يوه ښه ده، بې اغېزې نه دی.





ليـک او لوسـت پـه مورنـۍ ژبـه ضـروري دی. پـه جرمنـي کـې پښتـو ژبـه پـه ښوونځيـو (سـکولونو) کـې رسمي ژبه ده.



د نړېوال پښتو ادبي کنونشن د غونډې ځنډه ـ پېښور

د جرمنـي پـه ښوونځيـو کـې د جرمنـي ژبـې برسـېره د دوه نـورو ژبـو زده کـړه پکـار ده. پښتانـه کـولی شـي چـې يـوه خپلـه مورنـۍ ژبـه انتخـاب کـړي او پـه هغـې کـې ازموينـه (امتحـان) ورکـړي، خـو پښتـو پخپـل وطـن پښتونخـوا کـې لا پـه ټولـو ښوونځيـو کـې د ښـوونې او روزنـې ژبـه نـه ده گرزېـدلې. د پښتـو عربـي ليکـدود لا هم بشپړ نـه دی. پـه پښتـو کـې د حرکتونـو شمېر زيـات دی او پـه عربـي ژبـه کـې کم. يـانې پـه عربـي کـې پېښ، ځـور او زيـر حرکتونـه دي او پـه پښتـو کـې بيـا ددې شـمېر زيـات او تـر ۵ رسـېږي. ددې ليکـدود د بشـپړولو

دپاره په حکومتي سویه څه کار نه دی شوی. په اولسي سویه چې کوم کار ورته شوی هغه هم پوره نه دی، نو د پښتو ژبې د عربي لیکدود بشپړول ضروري دي.



د نړیوال پښتو ادبي کنونشن د غونډې څنډه ـ پېښور•

د لیکدود په برخه کې په جلاوطن ځوان کول کې د ډېر استعداد خاوندان او مسلکي کسان شته دی، خو دوی یوه ستونزه لري او هغه دا چې په عربي لیکدود د پښتو لیکل ورته ګران دي. دوی کولی شي چې په لاتیني تورو پښتو ولیکي او ویې لولي. نو له دې کبله د عربي لیکدود په خوا کې په لاتیني تورو د پښتو لیکل او لوستل ضروري دي. له بده مرغه تراوسه پښتانه په لاتیني تورو خپل نوم پښتون په بېل بېل ډول لیکي (د بېلګې په





توګه: Pakhtoon,Pakhtun,Pashtoon,Pashtun) دا دنده په پېښور کې د پښتو اکاډمۍ او په کابل کې د علومو د اکاډمۍ ده، چې په لاتین تورو د پښتو لیکدود برابر کړي.

که چېرې د پښتو عربي لیکدود په خوا کې په لاتیني تورو لیکدود په ښوونځیو کې په تېره بیا په بره پښتونخوا (افغانستان) کې رواج شي، نو دا به جلاوطن ځوان کول چې هر ډول مسلکي او روزل شوي کسان پکې دي، پخپل وطن کې کار ته وهڅوي او ځانونه به داسې حس نه کړي، چې لیکل او لوستل نه شي کولی.

په نړۍ کې د تخنیکي او الکترونیکي ودې له کبله انټرنټ نه یوازې نړۍ وال بازار دی، بلکې د معلوماتو او خبرتیا وسیله ده. ځوان کول په انټرنټ کې یو د بل سره په لاتیني تورو تماس نیسي، حکومتونه او سرکاري مقامات د لیکوالانو، شاعرانو او ادیبانو په معلوماتو او نظریو اوس هغه شان پابندي نه شي لګولی لکه څنګه چې په پخوانیو وختونو کې وه، د قلم خاوندان ازاد شوي دي،

تمه ده، چې ددې عالمي پښتو ادبي کنونشن ګډون کوونکي په اولسي توګه د پښتو لاتیني لیک دودو په برخه کې اوچت ګامونه واخلي.





کره کتونکی: ډاکټر رحمت ربي زیرکیار

# امریکه، مجموعي تنفر او برقي خلافت!

## USA, Collective hatred and Cybercaliphate!

نه یوازې د CIA مشر جورج ټینیټ د القاعدې د ډنډورو "پرله پسې ودې" ته ګوته نیولې ده، بلکې د امریکې د دفاع وزیر دونالډ رمسفیلډ هم د ترور پر ضد د نړۍ وال جنګ "د لګښت او ګټې تناسب" Cost-benefit ratio یو څه وارخطا کړی غوندې ښکاري او سربېره پر دې ددغه جنګ د ګټلو یا بایللو کنډه (مقیاس) هم نه لري. رمسفیلډ د خپلې کړۍ اشخاصو ته لیکي، چې:"ایا موږ د ترور پر ضد جنګ ګټو که بایلو؟... نن موږ ددې کنډه نه لرو چې د ترور پر ضد د نړۍ وال جنګ په ګټلو یا بایللو وپوهېږو... د لګښت او ګټې تناسب زموږ پر ضد دی! د ترورستانو د ملیونونو په مقابل کې زموږ لګښت






بلیونونو ته رسېږي... آیا موږ باید یوه شخصي موسسه جوړه کړو، چې افراطي مدرسې یو ډېر پاسته دریځ ته تطمیع کړي؟"

د ټول متن لپاره وګورئ:

Entice radical madrassas to amore moderate course?

Defense Secretary Donald Rumsfeld's Momo on the war on Terror, October 16,2003, in Usatoday.com

(د ننتوځ نېټه ۲۰۰۰/۱۴/۱۲)



امریکه هڅه کوي چې د القاعدې "د ثقل مرکز" ویجاړ کړي، خو د لادیني بې نوم لیکوال د څېړنې له مخې، امریکه دوه مشکلات لري: یو دا چې د القاعدې واکمني له جغرافیوي محدودیت نه راوتلې ده، یاني په یو "بالقوه برېښناییز خلافت" Potentioal

cybercaliphate اوښتلې ده، چې مرکزيت نه لري. دويم دا چې د القاعدې د ثقل مرکز پخپله د امريکې په عسکري، اقتصادي او سياسي عملياتو کې پروت دی، په هغو عملياتو کې چې د اسلامي نړۍ خلك ورسره مخامخ دي او په خپل ورځني ژوند کې يېويني، اوري او تجربه کوي يې، نو څه بايد وشي؟ ددغې پوښتنې د ځواب هڅه راتلونکې کره کتنې ته سپارم.

په دې کره کتنه کې به د يوه بې نومه ليکوال په کتاب وګړېږم، چې ټول ټال دوه ويشت (۲۲) کالونه د امريکې د استخباراتو په ټولنه کې مامور و. وروستني اوولس (۱۷) کالونه يې د افغانستان او پاکستان په اړوند کې د امريکې د ملي امنيت د موضوع ګانو په تحليل کې تېر کړي دي. د معلوماتو له مخې، بې نوم ليکوال په CIA کې (د امريکې په مرکزي استخباراتو کې) د ترورېزم پر ضد پروګرام کې يو لوړ رتبه افسر و.

د استخباراتي تحليل ګر په څېر د بې نومه ليکوال اوږده تجربه لوستونکي ته بلنه ورکوي، چې څېړنې ته





يې کلك پام وکړي او پخپله ليکوال ته ددې کفايت ورکوي، چې په برلاستيا (تسلط) سره په بن لادن او القاعده وغږېږي. ددې لپاره چې د خپلې اړوندې استخباراتي موسسې (CIA) اجازه لاسته راوړي، خپل کتاب يې په بې نوم ډول Anonymous خپور کړی دی:

بې نوم، شاهنشاهي غرور، لويديز ولې د ترور په مقابل کې جنګ بايلي. واشنګټن، ډي سي: بريسيز اينکورپورېشن، ۲۰۰۴.

Anonymous, Imperial Hubris:why the west is losing the war on Terror. Washington, DC:Brassey's Inc, 2004.

بې نوم ليکوال وايي، چې ددغه کتاب په ليکلو يې د کال ۲۰۰۳ په جنورۍ کې پيل وکړ او شپاړس مياشتې وروسته د کال ۲۰۰۴ په می کې يې د هغه مسوده بشپړه کړه (مخ۲۶۱).

ما (زيرکيار) د کال ۲۰۰۴ د نومبر په شپاړسمه (۱۶) نېټه د امريکې په CNN تلويژن کې د بې نومه ليکوال څېره وليدله او د هغه نوم مې په دې ډول واورېد:

(Michael . Scheuer) مايکل شويير (په CNN کې د "مني لاين" پروګرام) کېدلی شي چې په امريکا کې د کال





۲۰۰۴ د نومبر د دويمې نېټې په ملي انتخاباتو باندې د اغېز له امله به د بې نوم ليکوال هويت پټ ساتل شوی و؟ زه به ورته وروسته له دې هم بې نوم ليکوال او يا د کتاب ليکوال وايم. بې نوم ليکوال په خپل کتاب کې Classified Material پټ مواد نه دي کارولي، بلکې څرګند ياني خپاره شوي او عوامو ته د لوستلو لپاره ميسر مواد يې کارولي دي لکه د بن لادن ويناګانې او په مجلو او کتابونو کې د چارپوهانو نظرې بې نوم ليکوال په اوږده ډګر کې د امريکې د ملي ګټو د خوندي کولو لپاره يوه ارت بنسته، ملي بحث ته اړتياويني. دی لوستونکي ددې ترخې يا افراطي پوښتنې سره مخامخ کوي، چې مسلمانان ولې له امريکې نه نفرت لري؟ په بله وينا، ايا مسلمانان د امريکې د ارزښتونو سره غليمي (دښمني) لري که د امريکې د اعمالو سره؟ دغو پوښتنو ته کتاب ټول ټال په XXI او ۳۰۹ مخونو کې ځواب لټوي. د کتاب ګېنه (تيزيس، فرضيه) په دې جمله کې خوندي شوې ده:"د بن لادن له خوا خطر د نوموړي د مفکورو په ثبات او منطقي ارتباط کې، د





هغوی په څرګنده افاده کې او ددغو مفکورو د پلي کولو لپاره د بن لادن په جنګي عملياتو کې پروت دی." Coherence and consistency of his Ideas p.xvii.

بې نوم ليکوال وايي، چې ټول ټال د مسلمانانو له نظره، دين او دولت له يو بله بېل نه دي. کله چې د امريکې روحاني مشران (په تېره هغه مهال چې د حکومت سره نږدې اړيکې) لري د اسلام په هکله ناوړه وينا کوي او د يهوديت او عيسويت په نږدې والي او ملاتړ ټينګار کوي، مسلمانان لاپسې تحريکوي، چې د امريکې سره نفرت وپالي. د بېلګې په ډول: فرانکلين ګراهم اسلام يو "شرير دين" Wicked religion ګڼلی و. جيري فال ويل حضرت محمد ص ته (ترورېست) ويلي و، جيمي سواګرت په خپله دعا کې ويلي و، چې "هسك څښتن دې هغه څوك برکتي کړي، چې اسرائيل برکتي کوي او هغه څوك دې لعنتي کړي چې اسرائيل لعنتي کوي" او کيوين کاپلند په دې باور و، چې "هسك څښتن اسرائل خلق کړی دی" او بايد "موږ تر هغه مهاله د خپل حکومت ملاتړ وکړو، چې د اسرائيلو ملاتړ

کوي" (مخونه ۳ تر ۴) as long as it supports Israel...

بې نوم لیکوال کاږي، چې درې کاله وړاندې د کال ۲۰۰۱ د سپتمبر په لومړۍ نېټه طالبان په دې "بریالي شوو" چې د افغانستان په غټه برخه کې "یو سخت خو په قانون او نظم کې محکم نظام" جوړ کړي. ډېره مهمه دا وه چې "د ملا عمر رژیم په مخ په زیاتېدونکي ډول د افغانانو له خوا منل شوی و، ځکه هغوی پکې د نافذې لاروهنې او جنګ سالارۍ پای ولیدله"(مخ۳۳). د امریکې د هوایي قواوو جنرال C.F.Wald ویلي و چې د طالبانو هوایي دفاع او کوماندو او کنټرول (د لومړیو پنځلس دقیقو په شاوخوا کې) ویجاړ شوی وو(مخ۲۳). بې نوم لیکوال وایي چې شمالي ټلواله په افغانستان کې د امریکې د هوایي جنګ لپاره indigenous windowdressing یانې تشریفاتي افغاني سینګار و. شمالي ټلوالې ددې تومنه نه لرله، چې په بې طالب افغانستان کې دې د "ملي حکومت" او یا "دموکراتیک حکومت" د پرمختګ لپاره زمینه برابره





کړي. امریکه د یو داسې "ګروپ" سره غبرګه شوه چې "یوازیني باورمن مشران یې د مسعود د پنجشیرۍ مافیا دویمه درجه سړي (فهیم، عبدالله او قانوني) او وزبک مشر دوستم وو." د ژورنالیست مایکل میسینګ په وینا، "ډېر تاجکان" د پنجشېرۍ ډلګۍ غړي "د جنګ جنایتکاران" ګڼي. په افغانستان کې رشید دوستم هغه "یوازینی خورا ډېر منفور سړی" دی چې دا عادتونه هم وربانديې "ګران" وو: تړلي ملکي خلك او د جنګ بندیان به ې د ټانکونو لاندې کول او په کلیوالو (سړیو، ښځو، ماشومانو او په غټه اندازه په پښتنو) باندې به یې تېل تویول او بیا به یې پرې اور لګاوه.

.. having tanks run over trussed-up civilianr or prisoners of war, and dousing villagers-man, women, and children, and overwhelmingly Pashtuns- with gasoline and then lighting them up. (مخونه ۳۴ تر۳۸)

بې نوم لیکوال وایي چې بن لادن په افغانستان باندې د امریکې د حملې له نېټې نه "شپږ ورځې وړاندې" خبر شوی و او له دې امله یې خپلې قواوې تیتې کړې. دغه شان نږدې درې (۳) اونۍ وخت (۱۱ سپتمبر تر ۷ اکتوبر ۲۰۰۱) هم بن لادن ته ددې





زمینه برابره کړه، چې خپلې قواوې خورې ورې کړي او امریکه د عسکري هدفونو له ویشتلو نه محرومه کړي. (مخونه:۶۳تر۶۴). بې نوم لیکوال په دې اند دی، چې امریکه د یوه ترورېستي سازمان (القاعدې) سره لاس په ګرېوان نه ده، بلکې د یوه نړۍ وال اسلامي پاڅون Islamic insurgency سره په جنګ کې کېوتلې ده. په یو داسې جنګ کې، چې بالقوه Cybercaliphate یانې برېښناییز خلافت پکې اغېزمن رول لوبوي. د معلوماتو له مخې د القاعدې اغېز نه یوازې د سعودي عربستان په عوامو کې محسوسېږي، بلکې ددغه هېواد امنیتي او ټولنیزو کړیو ته یې هم چلن کړی دی (مخونه: ۷۲تر۷۳). دغه شان القاعده د کال ۲۰۰۲ له پیل راهیسې په انټرنېټ کې دوه ویب سایټونه استعمالوي، چې یو یې Al-Neda او بل یې Al-Ansar نومېږي. له دې لارې القاعده په عراق او افغانستان کې د جنګ په هکله معلومات او بدېرې (تبصرې) وړاندې کوي. په دې ډول په الکټرونیك نړۍ کې اسلامي ټولنه (اُمه) له جسمي جغرافیوي انګړ نه راووتله. د ډیوید مارتین





جونز Jones په وینا، "د بالقوه برېښناییز خلافت د "معنوي" نړۍ" په رواجي بریدونو ولاړه نه ده:

...the "Virtual world of potential cybercaliphate knows no conventional boundaries.

په اسرائلو کې د ترورېزم نامتو تحلیل ګر روین پاز Rueven Paz د یوې نوې ښکارندې (پدیدې) اهمیت ته ګوته نیولې ده. دغه ښکارنده په "اینټرنېټ مفرسینو" Internet Interpreters راڅرخي، چې په اسلامي ویب سایټونو او آن لاین مجلو online magazines کې خپلې لیکنې د بن لادن، القاعدې او جهاد په هکله خپروي. د یوه راپورټ له مخې (جنوري ۲۰۰۳)، امریکې په AL-Neda باندې څلورویشت (۲۴) بریدونه کړي وو چې مېندل او لوستل یې د علاقمندانو لپاره مشکل کړي. (مخونه:۷۹_۸۲). یو تکړه امریکایي تحلیل ګر رالف پیټرز Ralph Peters لیکي چې ولسواکي یانې دموکراسي باید "وګټله شي او زده شي" نه دا چې له هېڅ نه د "فرمان" له لارې جوړه شي. فرماني یانې "فوري" دموکراسي چې نړۍ واله بې ثباتي زېږوي، د امپریالیزم خوشې خبره ده. The ass end of

imperialism. دغه شان یو بل ځای وایي، چې "یوازینی قدرت" چې لویدیزې نړۍ ته یې اتکل کړی دی "د مجموعي تنفر" Collective hatred قدرت دی. په کال ۲۰۰۳ کې د پیوټرسټ نظر پلټنې Pew Trust Polls له مخې، ټول ټال مسلمانان "د امریکې د سیاست سره غلیمي لري، نه د امریکې د ارزښتونو سره". (ولولئ مخونه: ۱۶۷، ۱، ۱۷۷).

په افغانستان کې د امریکې جنګ "لاتراوسه په ماشوم توب کې دی" او د امریکې په مشرتوب د عراق نیول به "د مجاهدینو یو مقناطیس جوړ کړي" چې له هغه یوه نه به ډېر قوي وي چې روسانو په افغانستان کې جوړ کړی و. بې نوم لیکوال زیاتوي چې هلاکو په دیارلسمه زېيزه پېړۍ کې (۱۲۵۸) بغداد ویجاړ کړ او په سوونو زره مسلمانان یې ووژل. څو ځلې بن لادن د امریکې حکومت "د پېړۍ هلاکو" ګڼلی دی (مخونه: ۱۸۱_۱۸۲). پوهاند برنارد لویس Bernard Lewis خمیني ته ګوته نیسي، چې امریکه یې "غټ شیطان" ګڼلی و. په دې مفهوم چې





شیطان د یرغلګری، امپریالیزم او استثمار پرځای په بل څه پسې لګیا وي: شیطان هغه "تېروېستونکی [او] غولوونکی دی" چې د سپېڅلي قرآن په وینا، "د انسانانو زړونو ته پس پسی کوي" in the hearts of men whispers. یانې د پوهاند لویس په اند، د امریکې کلتور چې په اخلاقي فساد کې ډوب دی، پر اسلامي ټولنو اغېز اچوي. ددې په مقابل کې بې نوم لیکوال داسې دریځ نیولی دی: (الف) د خمیني په کچه د بن لادن وینا په اسلامي نړۍ کې ډېر زور لري ځکه بن لادن سني مذهبه دی، چې د مسلمانانو ډېره کیان جوړوي او خمیني شیعه مذهبه و چې د مسلمانانو لږه کیان جوړوي. (بي) بن لادن په مجرد ډول په لویدیز تمدن نه لګېږي، بلکې په ځانګړو خاورینو غوښتنو راچاپېر دی. د کتاب د لیکوال په وینا، بن لادن په دې باور لري، چې امریکه invader,imperialist, and exploiter په یرغلګری، امپریالیزم او استثمار کې اخته ده. په بله وینا، د بن لادن مرکزي موخه (هدف) دا دی، چې امریکه له منځني ختیز او له ټولې اسلامي نړۍ نه وباسي. په





دغه ارت هدف کې ځانګړې غوښتنې خوندي شوې دي، چې د کتاب لیکوال یې د بن لادن بهرنی سیاست ګڼي، په دې ډول:

۱_امریکه دې د اسرائیلو له ملاتړ نه لاس واخلي او په فلسطین کې دې اسلامي دولت رامنځته شي.

۲_له اسلامي خاورې نه دې ټولې لویدیزې قواوې ووځي.

۳_د امریکې له خوا دې د افغانستان او عراق اشغال پای ته ورسېږي.

۴_د امریکې ملاتړ دې د روسیانو، چینایانو او هندوستانیانو سره چې په مسلمانانو زور زیاتی کوي، پای ته ورسېږي.

۵_په اسلامي هېوادونو کې د انرجۍ زخیرې دې د مسلمانانو په واك کې شي او د انرجۍ د موادو بیه دې د بازار له لارې وټاکل شي، نه د امریکې د فشار له لارې.

۶_په اسلامي هېوادونو کې دې د امریکې ګوډاګي رژیمونه پای ته ورسېږي او پر ځای دې یې د





ملاعمر د رژیم په شان رژیمونه ودرېږي. (مخونه: ۲۱۰_۲۱۲).

د کتاب لیکوال د لوستونکیو پام دې ټکي ته راګرځوي، چې: "... دا په فکر کې وساتئ چې د مسلمانانو لپاره څومره اسانه ده، چې د امریکې [د حکومت دغه] شپږ سیاستونه ووینې، واوري، تجربه کړي او تنفر ورنه وکړي..." په بله وینا په اسلامي نړۍ کې د امریکې د حکومت سیاسي، اقتصادي او عسکري کړاندو (عملیاتو) ددې لپاره زمینه برابره کړې ده، چې مسلمانان له امریکې نه تنفر وکړي او د بن لادن د "دفاعي جهاد" defensive jihad چغه ته وده وساتي (مخونه: ۱۰_۱۲_۲۴۰_۲۴۱_۲۴۸_). د کتاب لیکوال زیاتوي، چې "پر عراق باندې د امریکې یرغل اوسامه بن لادن ته د امریکې له خوا تحفه ده". (مخ۲۱۲).

د کتاب لیکوال وایي چې امریکه یوه "ریښتوني" بحث ته اړتیا لري، هغه ارت بنسټ، ملي بحث ته چې د امریکې ملي ګټې توضیح کړي. وروسته له هر اړخیز بحث نه هره پرېکړه چې وي، باید د ټولو

امریکایانو له خوا ومنل شي. په دغه بحث کې دې یوازې د هغو سروالو پټهو (نخبو) په ګډون بسنه ونه شي، چې د ځانګړو سیاسي، تجارتي او دیني ډلو تر اغېز لاندې وي:

Not solely by their [Americans] elites with guidance, lobbying, money, and machination of oil companies, weapons makers, evangelical preachers, and Israel and its acolytes. P.259.

بې نومه لیکوال کاږي چې په امریکه کې "به څوك ددې جرئت ولري چې په اسرائیلو نیوکه وکړي" او یا "په لازیات بدعت سره" د امریکې د ملي ګټو په اړوند کې د اسرائیلو سره د امریکې د یو اړخیزې تړوالې "ارزښت د پوښتنې لاندې ونیسي". په امریکه کې له اوږدې مودې راهیسې دین له دولت نه بېل دی او رسمي دین د دموکراتیکې ټولنې سره نه جوړېږي، خو واشنګټن هر کال اسرائیلو ته څه دپاسه درې بلیون ډالرې ورکوي. په داسې حال کې چېې اسرائیل ځان په جګه چغه "د یهودانو دولت" او دموکراسي ګڼي.

With U.S backing, Israel has developed weapons of mass destruction at a pace it desired. P:227.





کارل فون کلاوزیویڅ Karl von Clausevitz هغه مفکر جرمن جنرال و، چې په برلین کې د حربي پوهنتون مشر هم و (۱۸۱۸_۱۸۳۰). د نوموړي مشهور اثر "د جنګ په هکله" Vom Kriege نومېږي او په انګرېزي کې یې سرلیك On War دی. که ومنو چې نیکولو مکیا ویلي په خپل "شهزاده" نومي کلاسیك، وتلي کتاب کې د سیاست فلسفه خوندي کړې وه، نو وبه وایو چې درې سوه شل (۳۲۰) کالونه وروسته فون کلاوزیویڅ به په خپل ذکر شوي وتلي کتاب کې د جنګ فلسفه انځور کړې وي. د فون کلاوزیویڅ په اند، جنګ باید منطقي وي (لګښت او ګټه یې باید اټکل شوي وي)، لوښیزوي یانې د هدف د بریالیتوب لپاره وسیله او اله وي او ملي وي یانې په ملي ګټو ولاړ وي. Instrumental, national, rational. مطلب دا چې ملي ګټې له جنګ نه لوړې او مهمې دي. د فون کلاوزیویڅ په اند، جنګ د "زورعمل" دی، چې مقابل اړخ "زموږ ارادې ته" په ګونډو کوي. دی وایي، چې په جنګ کې باید د غلیم "د ثقل مرکز" ړنګ شي.





بې نوم لیکوال وایي، چې امریکه د بن لادن سره په جنګ کې اخته ده، خو په دغه جنګ کې امریکه د هغه څه په لټه کې ده، چې فون کلاوزیویڅ ورته د غلیم د ثقل مرکز ویلی و. مطلب یې دا دی چې که د غلیم د ثقل پر مرکز برید وشي، په پایله کې به یې غلیم ماتې وخوري. د امریکې مشران هم د بن لادن په سمڅو او د هغه په کدرونو بریدونه کوي او د هغه په مالي زېرمو، تربیوي نصابونو او خیریه جالونو پسې سوړې لټوي، خو بن لادن د فون کلاوزیویڅ نظریه پر سر ودروله. بن لادن په رواجي ډول د ثقل مرکز نه لري. هغه نه هېواد لري، نه ښارونه لري، نه اقتصاد لري، نه د قدرت سرواله پټهه (نخبه) لري... او نه منظم پوځ لري. د ی وایي، چې د بن لادن د ثقل مرکز په اسلامي نړۍ کې د امریکې په اوسنیو سیاسي، اقتصادي او عسکري اقدامونو کې پروت دی. په هغو اقدامونو کې چې وړاندې ورته د شپږو ټکو په لیست کې ګوته نیول شوې ده او د امریکې په مقابل کې د بن لادن "دفاعي جهاد" defensive jihad ته انرجي ورکوي. "ترڅو چې دا واقعیت د امریکایانو او د دوی





د مشرانو له خوا نه وي منل شوی" بن لادن به د ټکتیکي بایلنو په بیه د خپل ستراتیجیك جنګ ګټلو ته دوام ورکړي. (مخونه: ۲۶۲تر۲۶۳).

د امریکې د مرکزي استخباراتو CIA مشر جورج ټینیټ Tenet د کال ۲۰۰۴ د فبرورۍ په وروستیو کې په کانګرس کې د مشرانو د جرګې د استخباراتو کمېټې Senate Select Committee on Intelligence ته وویل، چې د بن لادن له خوا خطر په وده کې دی: امریکې د القاعدې پر ضد "د کتنې وړ ګامونه" پورته کړي دي. "خو په ما باید غلط پوه نه شئ. زه نه وایم چې القاعده مړه ده." ټینیټ زیاتوي، چې د نړېوال ترور خطر په القاعده پورې منحصر نه دی، بلکې "زده کوونکې" القاعدې "په خپلې مفکورې سره نور ککړ کړي دي". Infected، په هغې مفکورې سره چې د امریکې متحد ایالتونه یکې "د اسلام د ستر غلیم په څېر انځور شوي دي." ددغه ډول ډنډورو د "پرله پسې ودې" Seady growth او په "ارته کچه د القاعدې د مخرب مهارت د تیتېدلو" له لارې په رتلونکي کې "یو کلك خطر" serious threat لیدل کېږي، دا چې

پخپله القاعده به پکې لاس ولري او یا به یې ونه لري (مخ۲۶۲).

George F. Tenet, "the worldwide threat 2004: challenges in a chanping Global Context", statement to Senate Select Committee on Intelligence, 24 February 2004.

بې نوم لیکوال وایي چې د جورج ټینیټ وینا واوریدل شوه، خو چا پرې غور ونه کراوه. دغه لیکوال که له یوې خوا د جورج ټینیټ په وینا کې پرته زړه ورتیا ستایي، نو له بلې خوا پکې د infected پر ټکي نیوکه کوي، چې د زهرجن کولو او ککړ کولو په مانا دی. دی وایي چې ټینیټ د سناټورانو د ارامولو لپاره دغه ټکی کارولی دی. لیکوال زیاتوي، چې بن لادن نور مسلمانان په ویروس Virus نه دي ککړ کړي، بلکې هغوی ته یې الهام ورکړی دی او تحریک کړي یې دي (inspired and instrigoted) (مخ ۲۶۲). د ترورېزم پر ضد جنګ ددې تومنه لري، چې "زموږ د زوزات له ژوند نه اخوا" اوږد شي او په غته کچه د امریکې په خاوره کې پلی شي (مخ XI). بې نوم لیکوال "په کلك ډاډ" سره وایي، چې القاعده به پر امریکې باندې د ۱۱/۹ له بخولی نه (ډېر زیان





اړوونکی" برید وکړي او کېدلی شي چې په هغه کې د وګړیزې وېجاړتیا وسلې هم وکاروي. (مخ XII).

دغه شان د CIA مشر جورج ټینیټ هم د کال ۲۰۰۴ د فبروری په ۲۴مه نېټه "خورا ژوره اندېښنه" ښرګنده کړې وه، چې "دا غلیم" په خپل تکل ولاړ دی، چې "بخولیزې وسلې" Catastophic weapons لاسته راوړي او وې کاروي. د جورج ټینیټ د ذکر شوې وینا ټول متن په لاندینیو دوه ویب سایټونو کې کتلی شئ:

http://www.cia.gov/cia/public_affairs/speches/2004/dci_speech_02142004.html>,pp.18

<http://www.fas.org/irp/congress/2004_hr/022404tenet.html>,pp.20

دلته cia.gov پخپله د cia ویب سایټ دی، چې په ۱۸ مخونو کې پکې د Tenet وینا خوندي شوې ده او وروستې fas.org د امریکې د پوهانو د ټولنې یانې د Federation of American Scientists ویب سایټ دی، چې ذکر شوې وینا پکې په شل مخونو کې خوندي شوې ده. [۲ دسمبر ۲۰۰۴].

پوهاند شیبلي تلهامي Shibley Talhami په میډل ایسټ جورنال (ټوك ۵۶،لومړی ګڼه، ژمی ۲۰۰۲)





کې کاږي چې "د امریکې اوسنی سیاست" د منځني ختیز د خلکو "زړونه او فکرونه" ګټلی نه شي. یانې ځوك چې پخپله بې اتباره وي، پیغام به یې څه اتبار ولري (د بې نوم لیکوال کتاب، مخ ۱۵). پیوټرسټ نظر پلټنې Pew Trust polls په کال ۲۰۰۳ کې ومیندل، چې مسلمانان د امریکې د "پالیسیو سره غلیمي لري، نه د امریکایي ارزښتونو سره" (مخ ۱۶۷). سره له دې چې د افغانستان او شوروي اتحاد ارزښتونو له یو بل سره غټ توپیر لاره، دواړه هېوادونه د یو بل سره په سوله ییز ګاونډیتوب کې اوسیدل. خو هغه مهال چې شوروي پوځونو په افغانستان یرغل وکړ، افغان ملت په دغه عمل کې د خپل دین او خپلې خاورې سپکاوی ولید او له دې امله یې دفاعي جهاد ته ورودانګل. خو امریکې د شورویانو له تجربې نه زده کړه ونه کړه، که څه هم له ۱۹۷۹ راهیسې د امریکې استخباراتو، پوځ او د کانګرس کړیو په افغانستان کې پخه تجربه لرله. لیکوال وایي، چې د کال ۲۰۰۱ له نومبر راهیسې د





کابل په رژیم کې پښتانه "اصلاً واقعي استازولي نه لري".

There is virtually no genuine Pashtun representation in the regime. P:40.

هغه څه چې په افغانستان کې د امریکې په مټ رامنځته شوي دي، افغانستان به "یوې بلې په وینو لړلې" لوبې ته ورسیخ کړي، چې کوم وخت به ورنه" د پښتنو په برلاستیا" یو داسې اسلامي نظام راووځي، چې بې له نومه به یې نور هرڅه طالبانو ته ورته وي.(مخ ۲۹)

...restoration of a Pashtun-dominated Islamic government that would mirror the Taleban in all but name.p:29.

راوبه ګرځم پر کتاب باندې یو څو نیوکو ته:

۱ـ بې نوم لیکوال وایي چې د بن لادن د ثقل مرکز د اسلامي نړۍ په مقابل کې د امریکې په اوسنیو سیاسي، اقتصادي او عسکري عملیاتو کې پروت دی. که واشنګټن غواړي، چې د بن لادن د ثقل مرکز رنګ کړي او ماتې ورکړي، بویه دا چې په خپل سیاست کې دې هم بدلون راولي. دی زیاتوي چې په امریکه کې یوه ارت، ملي بحث ته اړتیا ده چې د امریکې ملي ګټې توضیح کړي، خو لیکوال په خپل

کتاب کې ددغسې بحث د تنظیمولو لارې چارې ته ګوته نه ده نیولې.

۲ـ یو وتلی امریکای روڼ اندی ګورویدال امریکې ته "د هېرتیا متحدایالتونه" ویلي دي. روغه به دا وای چې که بې د لوستونکیو د زده کړې لپاره په افغانستان کې د شوروي پوځونو پر ترخه تجربه یو څه زیاته رڼا اچولې وای. په دغه اړوند کې لیکوال له لاندیني کتاب نه هغومره چې لازمه وه، ډېره ګټه نه ده اوچته کړې:

Lester A. Grau, and Michael A. Gress (eds./trans.), the soviet-Afghan war: How a super power fought and lost. Lawrence, KS: university of Kanas Press, 2002, xxvii and 364 p.

۳ـ لیکوال په "نیویارکر" مجله کې د جان لي اندرسن پر لیکنه حواله ورکوي او په لمن لیک کې یې هم خوندي کوي. خو ما د John Lee Anderson د یوه نوم لاندې هم د کتاب په اخځایونو (منابعو) کې د لیکنې سرلیك ونه میند.

۴ـ که بې نوم لیکوال د سناټ د استخباراتو کمېټې ته د CIA د مشر ټېنېټ د وینا په شان (۲۴ـ۲ـ۲۰۰۴) د دفاع د وزیر رمسفیلډ لیك





(۱۶ـ۱۰ـ۲۰۰۳) هم معرفي کړی وای، استدلال به یې لا زیات زور میندلی وای. رمسفیلډ دغه لیك جنرال ډیك مایرس، پاول ولفوویتځ، جنرال پیټ پیس او دګ فایت ته لیکلی و، چې ما یې ځینې برخې ددې لیکنې په پیل کې معرفي کړي دي.

۵ـ د کتاب د ګڼنې (فرضیې) د غښتلي کولو لپاره په ښاېسته ښه کچه اړوند معلومات وړاندې شوي دي، خو د بې نوم لیکوال د وینا سبك خال خال تکراري دی.

د کتاب ارزښت د لیکوال په اخلاقي جرئت کې ځلېږي: دی وایي چې امریکه یوه "رېښتوني"، ارت بنسټ بحث ته اړتیا لري، چې ملي ګټې یې توضح کړي. په دغه ملي بحث کې دې یوازې د هغو سروالوېټو (نخبو) په ګډون بسنه ونه شي، چې د ځانګړو سیاسي، تجارتي او دیني ډلو تر اغېز لاندې وي. دی زیاتوي چې په اسلامي نړۍ کې د امریکې عملونه د امریکې پر ضد دبن لادن "دفاعي جهاد" ته انرجي ورکوي. "ترڅو چې دا واقعیت د امریکایانو او د دوی د مشرانو له خوا نه وي منل شوی" بن لادن به د ټکتیکي بابلنو په بیه د خپل ستراتېجیك جنك ګټلو ته دوام ورکړي.





# پښتو

# او

# د پښتو مضر احتیاط

پوهنیار محمد اسماعیل یون



پر هره ټولنه، چې افراط او تفریط واکمن شي ټولنه له خپل انډوله وځي او د استاد الفت په اند د یوه پر ځای دوه تنه تلفات ورکوي مضر احتیاط هم د تفریط یو ډول دی، چې زیان یې له افراط سره خپل انډول برابروي؛ ځکه خو د اسلام سپېڅلي دین د افراط او تفریط





دواړه حالته مردود کړي او منځنی حد یې غوره بللی دی.

مضر احتیاط نه یوازې یوه ټولنیزه ناروغي ده؛ بلکې د یو شخص دځاني ژوند د ښېرازۍ او ودې پر وړاندې خنډ اچوونکې او رنځوونکې ناروغي هم ده استاد الفت په ټولنیز ژوندانه کې د مضر احتیاط پر ناروغۍ د یوه اخته کس حالت بیانوي، چې مضر احتیاط یې د جرئت وزرونه تړلي او د اوهامو سیوری یې ورته پر ذهن خور کړی دی.

دا کار ددې سبب شوی، چې دا کس د ژوند له ډېرو نعمتونو بې برخې شي.

استاد الفت وایي شمی اکا زموږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا، چې به کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل. دده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه، چې ده تر اخره پورې خپل کور ته برق رانه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شي؛ نو حریق به واقع شي او کور به مې وسوځي.

دده دا عادت و، چې په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و؛ ځکه، چې د موټر له چپه کېدلو وېرېده او احتیاط یې کاو. هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او په کور کې به یې

رڼا هم ډېره لږه وه.

د پښتو ژبې د خدمت او پالنې په باب هم د ځينو پښتنو چلند دې مضر احتياط ته ورته دی.

يو شمېر روڼ اندي، سياستوال او نوم څرګندي پښتانه ددې لپاره له پښتو پالنې او ان پښتو يادونې او ګړنې څخه ډډه کوي، چې څوك ورته ژبپال او ملتپال (نشنليست) ونه وايي.

دوی داسې فکر کوي، چې که يو ځل چا ورته نشنليست او فاشست ووايه، دا تور؛ خو نو بيا له (کفره) هم بد تر دی، بيا خو چې هر څومره ځان سپين کړي، سپينېدای نه شي.

د پښتو ژبې دښمنانو له ډېرې پخوا نه د يو منظم او سنجول شوي پلان له مخې پښتو ضد چارې او ډلې دي. په دې ډول پښتو ضد هڅو کې يوه هڅه همدا يرغليز تبليغ او چلند دی، چې دوی يې د يوې اساسي وسيلې په توګه کاروي دوی ټول عمر د پښتنو د شهرازۍ رګونه زېښلي، د پرمختګ په لاره کې ورته خنډونه جوړ کړي او جوړوي يې؛ خو چې کوم انديال (شعوري، پښتون) ورته ووايې، چې ولې؟ نو بيا پرې له لاسه د نشنليست او فاشيست تور پورې کړي. زمونږ ځينې په زړه سپېڅلي پښتانه يې د مکارۍ په همدغه جېل کې راګير کړي او ان تر دې





وخته يې د خلاصون لاره نه ده پيدا کړې. که کوم هڅاند پښتانه له دغه ژبني زېښناك نه د وتلو رپې رپولې؛ نو بيا زياتو پښتنو او ناپښتنو پرې په دې پلمه د ملامتۍ اور پورې کړی، چې د هېواد د ورونو قومونو او مليتونو تر منځ بې اتفاقۍ او ژبني تضادونو ته لمن وهي. په افغانستان کې د پښتنو او د هغوی د ژبنو حقوقو د غصبوونکو تر منځ وروري هغه د اوښ او لېوه د وروری مثال لري.

وايي، چې يو خت د اوښ او لېوه تر منځ د وروری يو تړن شوی و، دواړه په يوه کور کې اوسېدل، له خپلو اولادونو سره يې ګډ ژوند کاوه، ټول به د يوې کورنۍ د غړو په څېر اوسېدل، د دوی تر منځ دا تړون هم شوی و، چې يو د بل اولادونه به خپل اولادونه ګڼي او توپير به يې نه کوي، هر چا چې د دواړو تر منځ توپير وکړ هغه به ملامت وي.

ژوند څومره موده همداسې تېر شو، يوه ورځ لېوه او اوښ دواړه د سارا پر لوري له کوره بهر شول، څرنګه، چې د دواړو لاس ته څه ورنغلل؛ نو وخت پرې ډېر تېر شو؛ نو هم د اوښ بچيان او هم د لېوه هغه ښه وږي شول. د لېوه د بچيانو نور تاب رانغی؛ نو ټوپ يې کړ د اوښ د يوه بچي اورمېږ يې ورتاو کړ، وينه يې وڅښله او غوښه يې هم وخوړه کله، چې اوښ او





لېوه دواړه کور ته راستانه شو؛ نو ګوري، چې د اوښ د بچي يوازې پوستکی پاتې دی او بس اوښ، چې دا حالت وليد؛ نو له ډېر خفګانه يې چيغه کړه: (هله زما بچی) لېوه، چې د اوښ (زما بچی) غږ واورېد؛ نو فوراً يې پرې نيوکه وکړه او ورته يې وويل، چې ته ملامت يې، ته د وروری پر اصولو نه پوهېږې، تا ولې زما او د خپلو اولادونو تر منځ توپير وکړو، تا ولې وويل: (زما بچی) ايا زما بچي ستا بچي نه دي؟ له ژبني پلوه د پښتنو او پښتو ضد کسانو وروري همدغه مثال لري په افغانستان کې پښتو او پښتانه تل په خپل حاکميت کې هم محکوم وو، هم محروم؛ خو د ملامتۍ ګوته هم دوی ته نيول کېږي هم يې ژبه زېښل کېږي او هم فاشيستان ګڼل کېږي که يو ناپښتون ټول عمر د پښتو، ژبني حقوق زېښي او يو پښتون هسې ووايي، چې ولې پښتو؟ نو بيا سم له لاسه ورته وايي، چې ته ولې پښتو يادوې دا خو نيشنليستي او مليتي مسايل دي.

د پښتو ضد ډلو ټپلو دغو هڅو، اغزن چاپېريال او نورو نادودو له فرهنګي او ژبني پلوه پښتانه پر څو ډلو وېشلي دي:

۱- يو هغه ډله پښتانه دي، چې خپله ژبه، خپل کلتوري، ملي او هېوادنی مسئووليت پېژني، د ملت





جوړونې په بهير کې د ژبې پر ارزښت هم پوهېږي او د افغانستان د ملي يو والي او خاورې د بشپړتيا لپاره د پښتو پر ستر اهميت او رول هم پوهېږي. دوی د انديالو هېوادپالو او ملت رغاندو پښتنو افغانانو په توګه د پښتو ژبې پالنه، بډاينه، وده او پرمختګ خپله دنده بولي او په دې لاره کې له هېڅ ډول هاند او هڅو ډډه نه کوي دوی په دې برخه کې دومره منډې ترړې کړې او کوي يې، چې ان خبره يې د ځاني ژوند د بلهارۍ (قربانۍ) تر بريده هم رسولې ده. په حقيقت کې د همدغې ډلې د بې ساري قربانۍ، اند او هڅو برکت دی، چې پښتو د پرديو له يرغليزو هڅو او د خپلو پښتنو د بې تفاوتۍ له چلندونو سره سره تر اوسه ژوندۍ پاتې او لا وده کوي.

۲- دويمه ډله هغه پښتانه دي، چې نه يوازې پښتو نه پالي، نه يې وايي او نه يې ليکي؛ بلکې پر ضد يې هم دي دا ډول پښتانه اکثره په پښتو ضد مورچل کې ناست دي او نورو پښتو ضد ډلو سره يو ځای پر پښتو ډزې کوي.

دې ډلې اکثرو پښتو هېره کړې، ليك او وينا په بله ژبه کوي، د همغې ژبې له لوست، وينا، موسيقۍ او خبرو خوند اخلي، خپلې شخصي، اقتصادي او نورې ګټې هم په هماغه ژبه کې ګوري پښتو ضد ډلو ټپلو

لپاره دا ډول پښتانه د پښتو ځپلو ډېره ښه وسیله ده. دا رنګ پښتانه په پښتو دښمنۍ کې له اصلي "ستمیانو" نه هم څو څپکه تېر دي، هر پښتون به یې ډېرې بېلګې لیدلې وي دا ډله کېدای شي "ستمي پښتانه" وګڼل شي.

۳- درېیمه ډله هغه پښتانه دي، چې د بې تفاوتۍ پر غونډۍ ناست دي، د نړۍ له ښه او بده خبر نه دي او هر څه اسماني پېښې ګڼي، په دې ډله کې اکثره نالوستي کسان راځي مضر احتیاط کاري هم په همدې ډله کې راځي، چې د ډېر احتیاط له کبله ځانته د بې توپیرۍ حق ورکوي او دا لاهم پرې سرباري کوي، چې والله نو مونږ ته خو دا او هغه ژبه یو شی دي. بې تفاوتانو کې د پښتنې ټولنې یوه غټه برخه راځي، چې نالوستي، ناشعوري یو شمېر روحانیون او نور په کې رانښکېل دي. په ټولیز ډول د پښتو په باب پښتانه پر همدغو درېو کټګوریو وېشل کېدای شي:

شعوري پښتانه، پښتو ضد پښتانه او تفاوتان.

اوس راځو دېته، چې د ژبني فعالیت له مخې پښتانه په کومه کچه دي؟

د شعوري پښتنو ټول ځواک په دې برخه کې اوبه کېږي، چې له پښتو ضد پښتنو سره مقابله وکړي. د





خپل ځواك یوه برخه له پښتو ضد پښتنو سره لیکنۍ او ګړنۍ مقابلې ته بېله کړي او خپل وخت هغو ته پر قناعت ورکولو تېر کړي او بله برخه یې د ستمي پښتنو له خوا پښتو ته د ور اړول شوي زیان جبران ته بېله کړي؛ نو که شعوري پښتنو ډېره توره هم کړې وي، ایله به یې دومره کړي وي، چې د پښتو ضد پښتنو د هڅو مخنیوی وکړي. بې تفاوتان؛ خو هسې هم وایي، چې ژبه موږ ته بې تفاوته ده او موږ پرې کوم کار نه لرو. که چېرې موږ د ژبني فعالیت له مخې د پښتون قوم هڅې و ارزوو کېدای شي ووایو، چې دوه متضاد او متخاصم ځواکونه د یو بل پر وړاندې مبارزه کوي او په پایله کې یو بل دفع کوي.

یانې د دواړو وروستی حاصل صفر دی. په حقیقت کې د ژبني فعالیت له مخې د پښتنو فعالیت خنثی دی؛ ځکه، چې یو مټ د بل مټ زور اوبه کوي او د درېیم ګړي د ګوزار د مخنوي لپاره ورته کوم ځواك نه پاتې کېږي. د ژبني فعالیت له مخې کېدای شي پښتانه او پښتو ضد ډلې ټپلې په اعدادو کې هم افاده کړو.

د ساري په توګه دا خبره ټولو ته څرګنده ده، چې په هېواد کې د پښتنو نفوس د نورو ټولو قومونو د مجموعي شمېر دوه برابره دی، یانې په هرو پینځلسو





تنو کې لس پښتانه او پینځه ناپښتانه دي.

اوس نو که موږ پښتانه یانې د ټول نفوس له پینځلس برخې نه لس برخې پر درېو برخو ووېشو؛ نو هره برخه به درې تنه شي (د یوه تن له محاسبې پرته) که چېرې په لسو پښتنو کې درې تنه پښتو ضد پښتانه او درې بې تفاوتان له دې شمېره وباسو نو ټول به څلور تنه پاتې شي.

که چېرې موږ درې پښتو ضد پښتانه له ناپښتنو سره یو ځای کړو؛ نو د هغوی شمېر به اتو تنو ته ورسېږي.

د بې تفاوتانو رول به هېڅ نه محاسبه کوو؛ خو که چېرې هغه هم محاسبه کړو؛ نو د ناپښتنو شمېر به له دوی هم زیات شي؛ ځکه، چې بې تفاوتان او مضر احتیاط کاري اکثره د تلې پلې ته ګوري، هره خوا، چې درنه وي همغې خوا ته ځان اچوي.

د شمېر له پلوه اته له څلورو سره مقابل دي، د ژبني فعالیت له مخې دا انډول ښیي، چې په فرهنګي برخه کې د پښتنو تلفات باید درې ځله زیات محاسبه شي؛ ځکه، چې: یو کس له تا بېل شو (لومړی تلف) دویم ستا له مقابل لوري سره یو ځای شو (دویم تلف)، بېرته ستا په مقابل کې استعمال شو (درېیم تلف).





که چېرې په فزیکي جګړه کې د یو لښکر یو عسکر ووژل شي او د جګړې له ډګر ووځي؛ نو هغه په هماغه یوه تلف کې حسابېږي؛ ځکه، چې د هغه رول نور د ابد لپاره ختم شي.

خو د همځنګو ژبو او کلتورونو تلفات داسې نه دي، هغه لکه د پښتنو په شان هم ځان وژني، هم خپل قوم وژني او هم بل ژوندی ساتي؛ نو دا تلفات څو ځلې (درې چنده) او ډېر درانه دي.

د پښتو ضد پښتنو تر څنګ بې تفاوتان او مضر احتیاط کاري هم د مقابل لوري په ګټه دي.

څرنګه، چې زموږ په ټولنه کې ژبنی انډول د پښتو او پښتنو په ګټه و؛ نو دا ډله کسان تل هڅه کوي، چې واکمن بهیر سره ملګري شي؛ ځکه، چې د راحت احساس وکړي. پښتانه احتیاط کاري بیا په خپل کار کې د مضر احتیاط تر وروستي بریده ځان رسوي. ان که چېرې په یو ژبني او فرهنګي چاپېریال کې د ناپښتنو شتوالی اصلاً هېڅ مطرح نه وي او یا په هغه محیط کې هغوی ښخي وي نه؛ نو احتیاط کاري یې ددې لپاره کټې خوندي کوي، چې څوك ورته بیا نشنلیست او فاشیست ونه وایي.

د ناپښتنو یو چلند دا هم دی، چې دوی په ځینو حساسو وختونو او مسایلو کې له همدې ډول احتیاط

کارو پښتنو څخه د پښتنو د استازو (!) په توګه ګټه اخلي؛ ځکه هغوی پوهېږي، چې که دوی د پښتنو پر ضد هر ډول هڅه وکړي دا ډول اشخاص کوم غبرګون نه ښيي. د شعوري پښتنو مخه هم د افراطينو او فاشيستانو په تور ددغو احتياط کراو، معتدلو او ورځچارو په واسطه په ډېر ښه ډول نيول کېدای شي.

په دې ډول په ژبنيو او فرهنګي مسايلو کې ژبنی فعاليت ټول د دوی په ګټه پای ته رسېده.

د احتياط کارو يوه بېلګه به هم وړاندې کړو:

زموږ يو دوست ليکوال و، ګڼ شمېر کتابونه يې ليکلي وو، ده چې څومره مينه پښتو سره لرله، همدومره ان تر دې زياته يې فارسي سره هم لرله. ده دا استدلال کاوه، چې پښتو بايد د فارسي په غېږه کې وده وکړي او له فارسي پرته يې وده ناممکنه بريښي. ده فارسي ژبې ته د دري ژبو او پښتنو خدمت د افغانستان د ملي وحدت په ګټه کار باله؛ خو د پښتو پر وړاندې يې دري ژبي پر خدمت مکلف نه ګڼل.

نو ده ځکه د خپلې ذهني او فزيکي انرژۍ يوه درنه برخه د فارسي ژبې خدمت ته بېله کړې وه.

ده ان په پېښور کې، چې يو بشپړ پښتني چاپېريال دی د خپلې خپرونکې جريدې ژبنۍ برخه په سلو کې





(۶۰) فارسي او (۴۰) پښتو ټاکلې وه او د جريدې په سلو کې (۹۰) سرمقالې يې هم په فارسي ژبه وې. د پښتنو له خوا پر ده باندې ډېرې اصولي نيوکې وشوې، چې دا کار په هېڅ معيار برابر نه دی؛ خو ده د زړه له کومي دا غوښتل، چې زموږ دري ژبي ورونه خوشحاله کړي؛ ځکه يې نو ان په يو بشپړ پښتني چاپېريال کې هم د دوی ژبنيو حقوقو ته په دومره درنه سترګه کتل.

ده په داسې يو چاپېريال کې کار کاوه، چې که ان دري ژبي هم د اخبار مدير وای، دري به يې دې کچې ته نه وای لوړه کړې؛ ځکه، چې د چاپېريال غبرګون ته به يې طبعاً پام و؛ خو زموږ دې ليکوال خپل دا چلند که څه هم په ځرګنده يوه بې انصافي او نا انډولي وه؛ خو بيا هم د افغانستا د ملي يو والي او د ورونو قومونو په ګټه باله او تر وروستي حده خپل دې اند او چلندته رښتينی هم و؛ خو دومره تېرېدنې، زغم، صداقت، پر ژبه ظلم او د بلې غوړونې بيا هم پښتو ضد اشخاص قانع نه کړای شول، د همدې شخص په باب مې په کابل کې د يوه تن دري ژبي ورور له خولې واورېدل:

"او... هم افغان ملتی است چندين کتابش به پشتو چاپ شده است" دې سره سړي ته هغه متل راياد





شي، چې "هندو سترۍ او خدای ناراضه" د دا ډول اشخاصو شمېر په لسګونو، په سلګونو ان په زرګونه وو، چې له پښتو نه يې دري ته ډېر خدمت کړی دی؛ خو هغوی بيا هم د نشنليزم له توره پاك نه شول. که موږ په افغانستان کې دري ژبې ته د شوي خدمت او کار جاج واخلو؛ نو که د افغانستان له تاجکو نه د پښتنو ونډه په کې زياته نه وي؛ نو کمه؛ خو په هېڅ وجه نه ده. ايا بلې ژبې ته دومره ستر خدمت او خپلې ته دومره خيانت او له هغې سره د بې تفاوتۍ چلند به موږ د فاشيزم له نامنطقي تور څخه خلاص کړي؟ نه هېڅکله نه!

نو څه بايد وشي؟ ښه خبره داده، چې موږ بايد خپل ځان وپېژنو، خپله حافظه تر لاسه کړو، نه خپل حق نورو ته وبښو او نه د نورو حقوق تر پښو لاندې کړو. ښه کار دادی، چې پښتانه دې پښتو ته خدمت وکړي او دري ژبي دري ته که ټول پښتانه لکه د دنيا د نورو قومونو او يا زموږ د دري ژبو ورونو په شان د خپلې ژبې خدمت ته ورودانګي؛ نو بيا به پر څو برخو د پښتنو د وېش خبره هم لا منځه لاړه شي. بيا به؛ نو موږ هم نه په نورو ژبو کې مسخه کېږو، نه به له خپلې ژبې سره د خيانت په بيه د بلې ژبې د خدمت بار اوچتوو، نه به پر سلو ذهني او رواني ناروغيو





اخته کېږو او نه به څوك رانه ګيله کوي؛ ځکه، چې نورو ته د خدمت معيار به د هغوی د خدمت په معيار پورې تړلی وي، که هغوی زموږ ژبې ته په درنه سترګه کتل او د هغې خدمت يې خپله دنده بلله، موږ به هم د هغوی ژبې ته خدمت خپله دنده بولو او که نورو زموږ ژبه زبېښله او غوځوله؛ نو زموږ ښه سړيتوب به دا وي، چې خپله ژبه وژغورو؛ خو د بل هم غوځه نه کړو.


زموږ وروري او دوستي بايد پر انساني اصولو ولاړه وي، راکړه ورکړه مو بايد پر عدل او انډول ولاړه وي، نه د اوښ او د لېوه وروري، چې هم يې بچيان له منځه لاړ شي او هم په وروری کې ملامت شي؟!

(د دعوت نه په مننه)

> دا ستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
> دغه سود به خپل هرګز په زيان ورنه کړم
> په رحمان دا ستا د لبو مې حرام شه
> څو د خپلو وينو جام تاوان ورنه کړم.
> "رحمان بابا"

لایق زاده لایق

# په پېښور کې د ډاکټر کبير ستوري مصروفيات



د افغانستان د خاورې نوميالی ليکوال شاعر او د ساه پوهنې ماهر ډاکټر کبير ستوری چې کله څو ورځې وړاندې د المان نه پېښور ته د راتلو فيصله وکړه، نو که يو خوا ښاغلی ستوری دې ته لېواله وو، چې کله به د خپلې خاورې د ليکوالو او پوهانو سره وينې، نو بل خوا په دې خاوره هم يو شمېر ليکوال د ستوري صيب راتلو ته سترګې سترګې وو. د پښتو عالمي کنونشن خبر هغوی ته د وړاندې نه رسېدلی وو او د کنونشن راجوړونکي ښاغلي سليم بنګش او اسير منګل بيا بيا لارې ته کتل. په دويشتم مارچ ښاغلی ستوری د خپل زوی





ښاغلي حاجي نصير ستوري سره پېښور ته راورسېدو. دلته د هغه مئينانو يو شمېر په انتظار



د ښي نه چپ ته. نصير ستوری، ډاکټر کبير ستوری، اجمل خټک، عبدالله بختانی او عبدالجليل ملنګ

وو. ستوری صيب دلته د سکون ساه واخيسته او بيا سبا له يې د مارچ د مياشتې په درويشتم تاريخ د کاکا صيب مخه وکړه او چې کله په واپس راتلو نو د



د نړيوال پښتو ادبي کنونشن د غونډې څنډه _ کوهاټ





پښتو ژبې د لوی ليکوال او سياسي مبارز ښاغلي اجمل خټک پوښتنې ته ورغلو. په دې موقع د ستوري



د ډيورنډ لاين د کتاب د مخکتنې د غونډې څنډه _ پېښور

صيب مشر ورور ښاغلی عبدالجليل ملنګ د دوی زامن عبدالبصير بيدار او نصير ستوری هم موجود وو. د افغانستان نوميالی اديب ليکوال عبدالله بختاني هم ملګرتيا لرله. ستوري صيب د پښتنو



د ډيورنډ لاين د کتاب د مخکتنې د غونډې څنډه _ پېښور

غمونه وژړل او ښاغلي اجمل خټک ورله ډاډ ورکړو.





دا خبرې تر ډېره وخته پورې جارې وې، چې هره خبره يې د سند وه. د اکوړه خټک نه د راتلو نه پس سبا له



نړيوال پښتو کانګرس د غونډې څنډه _ پېښور

يعنې په ۲۴ مارچ ښاغلي کبير ستوري دا فيصله وکړه، چې د رنځور ولي خان پوښتنې له خامخا ورځي، ځکه چې خان عبدالولي خان د حضرت باچا خان د سترګو تور او د ټولو پښتنو د زړه ټکور دی. په



نړيوال پښتو کانګرس د غونډې څنډه _ پېښور

دې ترون ورسره ښاغلی کبير ستوری يو شعوري تړون

لري او چې کله هم پاکستان ته راځي، نو د ولي خان خواته خامخا ورځي. ډاکټر کبیر ستوري د خان




عبدالولي خان پوښتنه هم وکړه او د بیګم نسیم ولي خان سره یې هم وکتل. دغه رنګ دا ورځ ټوله ښه مصروفه تېره شوه. شپږویشتم مارچ هاغه ورځ وه د کومې لپاره چې ډاکټر کبیر ستوری په خصوصي




توګه راغلی وو. په دې ورځ په نشترهال کې ادبي





چمن ټل د سیورې لاندې په دې عالمي کنونشن کښې د ډېرو لرې هېوادونو نه پوهان، لیکوال او سیاسي غړي راغلي وو. ددې صوبې وزیر اعلی محمد اکرم خان دراني او نورو سرکاري غړو په دې کنونشن کښې په خصوصي توګه ګډون وکړو. کنونشن دوه ورځې دوام ولرلو او په یو نشست کښې ډاکټر کبیر ستوری د مشر مېلمه په حیث خپلې ذمه وارۍ ترسره کړې. د عالمي پښتو ادبي کنونشن د خوا داکتر کبیر ستوري ته د پښتو ادب ته د خدمت ایوارډ هم ورکړی شو. په ۲۸ مارچ د کنونشن د پروګرام ترمخه د ټولو شریك والو لپاره په کوهاټ کښې د روټۍ او بیا په ټل کښې د یوې مشاعرې تابیا شوې وه. کبیر ستوري په دې دستورو کښې د خصوصي ګډون اراده ولرله. تر لسو یوولسو بجو پورې لیکوالان په نشترهال کښې راجمع کېدل. دغلته ستوری صیب د عبدالرحمان لوګي، اکرام الله ګران او نورو ډېرو لیکوالو سره د نزدې نه ولیدل، چې کله د لیکوالو قافله کوهاټ ته ورسېده، نو د مسلسلې سترتیا له امله هغوی ته دا مشوره ورکړه چې ټل ته لاړ نشي او دغه رنګ هغوی د کوهاټ نه واپس پېښور ته راغلل.

په ۲۹ مارچ د پاکستان ټیلي وېژن پېښور مرکز د





کنونشن په اړوند د یوې خصوصي جرګې راجوړولو تابیا وکړه چې ورکښې د ډاکټر کبیر ستوري نه علاوه ددې صوبې د اطلاعاتو وزیر ښاغلي اصف اقبال داودزی ښاغلي سلیم راز، ښاغلي سعید ګوهر، ښاغلي سلیم صافي او نور شامل وو. په دې جرګه کښې د پښتو ژبې په اهمیت خبرې وشوې. هم په دې ورځ ماښام په پریس کلب کښې د پښتو عالمي کانګرس له خوا د کنونشن د مېلمنو لپاره په یوه استقبالیه کښې ستوري صیب ګډون اوکړو.

په ۳۰ مارچ د محمد افضل خان لالا د کتاب "د ډیورنډ کرښه" د مخ کتنې دستوره وه، چې ورکښې د اجمل ختك، بیګم نسیم ولي خان، بشیر بلور، لطیف افریدي نه علاوه نورو بې شمېره سیاستمدارانو او لیکوالو صحافیانو ګډون وکړو. ستوری صیب په دې موقع خاص مېلمه و.

په یکم اپریل د رحمن بابا د کلیزې خصوصي دستورې وشوې. په وړمبۍ ورځ محترم کبیر ستوری په دې دستوره کښې د خصوصي مندوب په حیث ګډون وکړو او د دوهم نشست صدارت یې وکړ.

په ۲ اپریل د پښتو نوي چینل (شمله ټي- وي) د ستوري صیب سره دوه ساعته تفصیلي مرکه وکړه. په





۳ اپریل په ټوله صوبه کښې هړتال وو ځکه ټولې هلې ځلې وځنډېدې. په ۵ اپریل په AVT خیبر کښې د ستوري صیب په علمي او ادبئ خدماتو خصوصي پروګرام کتابونه دریابونه ترتیب کړی شو، چې ورکښې ډاکټر شاه جهان او ظفري صیب خبرې وکړې. په دې واقع د ستوري صیب د مشر ورور ښاغلي عبدالجلیل ملنګ او زوی حاجي نصیر ستوري تاثرات هم ریکارډ کړی شو. ستوري صیب په خپلو خبرو کښې د پښتو ژبې دپاره د نور کار کولو په اهمیت زورر واچولو. ددې نه وړاندې هم په دې ورځ د صوبې د صحافیانو له خوا د ډاکټر کبیر ستوري په اعزاز کښې د Gust Hour بندوبست وکړی شو. ګڼو صحافیانو په دې خبرو کښې شرکت اوکړو او د ډاکټر کبیر ستوري فکر ته یې خصوصي اهمیت ورکړو.

په ۸ اپریل ستوری صیب په ننګرهار کې د نارنج ګل په مشاعره کې هم ګډون وکړ او په ۹ اپریل خاص کنړ ته لاړ.

**زړګی درنه خطا شو که ځیګر درنه خطا شو**
**د قصده داسې وشو که نظر درنه خطا شو**
**سپرلیه دا دې څه وکړه زموږ کلي ته راغلې**
**کوڅه درنه خطا شوه او که ور درنه خطا شو.**
**"پروفیسر اباسین یوسفزی"**

**ډاکټر کبير ستوري**

## د محمد دين مقيد په ياد

د انسان ژوند يو څو ورځې وي تېرېږي
ښه ده، ښه ده چې په ښه نوم څوك يادېږي

مړ هغه دی چې يې نوم او اثر نه وي
چې يې نوم اثر ژوندی وي نه مړ کېږي

محمد دين مقيد ښه نوم دی گټلی
اديبان چې يې د ېره کې راټولېږي

دی په برخه د غريب باندې ټينگار کړي
که هرڅو دونيا بدله شوه بدلېږي

ننگ په پت، ښېگړه توره او وفا کړي
د ادب د اسمان ستوری دی ځلېږي.





# پېغام

د مومند ادبي ټولنې او د مومند ادبي غنچې ملگرو ته او ښاغلي جنرال عبدالصمد مومند صيب سلامونه!

دا چې تاسې د ازادۍ د تحريك د ستر غازي حاجي صاحب ترنگزو د کليزې د نمانځنې په هکله د درنې مشاعرې او سيمينار تابيا کړې ده، نو زما دپاره د ډېرې خوښۍ ځای دی. ويښ قامونه تل خپل اتلان نمانځي. د ازادۍ د تحريك ددغه ستر غازي کارنامې بايده دی، چې وخت په وخت دې قوم ته وړاندې شي او ددې ستر غازي د کارنامو ستاينه او قدرداني وشي.

تاسې ته مضبوطه حوصله غواړم، چې خپل درانه مشران لا درانه کړئ.

درانه اوسئ
ډاکټر کبير ستوري
د پښتنو د ټولنيز ولسوليز گوند مشر





*عزيز سرشار*

# ملاتړ _ ستاينه _ مبارکي

### د پښتونخوا د خپرونې جرگه

### د

**نړيوال پښتو ادبي کنونشن _ پېښور:**

د پښتو ادبي چمن ټل له خوا د نړيوال پښتو ادبي کنونشن راجوړوونکو ښاغلي سليم بنگش، ښاغلي پروفيسر اسيرمنگل، ښاغلي ملك مقبول او ښاغلي رئيس کوثر او د پښتو ادبي چمن ټل نورو غړو ادبي هلې ځلې او ددغه پرتمين کنونشن راجوړول د پښتو ژبې د ودې او پرمختگ تر ټولو ستر او مهم گام بولي او دوی ته د کنونشن په برياليتوب مبارکي وايي.

**رحمان ادبي جرگه پېښور:**

د رحمن ادبي جرگې له اړخه د رحمان بابا د سيمينار جوړوونکو ښاغلي يوسف علي دلسوز، ښاغلي مجاهد، ښاغلي ملك وزير خان، نورو ملگرو او د اکاډمي ادبيات پاکستان د پېښور د څانگې مشر ښاغلي سيدولي خيال مومند او نورو شاعرانو او اديبانو له خپلې ژبې سره په





زړه پورې مينه ستايي او د دوی ددغو هلوځلو درناوی کوي.

**پښتو عالمي کانگرس:**

د پښتو عالمي کانگرس ملگرو ښاغلي تاج عامر، ښاغلي فريدون خان، ښاغلي شهاب الدين ختمك او د هغوی نورو ملگرو کلتوري او ادبي هلې ځلې د پښتو او پښتنو سرلوړي گڼي او د دوی درناوی او ملاتړ کوي.

**د کندهار آئينه:**

د کندهار آئينه، د سوېل لويديزې سيمې ليکوالو، شاعرانو او ژورنالستانو له خوا د نامتو څېړونکي او ليکوال استاذ محمد اصف صميم او د نامتو ليکوال او شاعر ښاغلي محمد صديق پسرلي په وياړ سيمنارونه د پوره ستاينې وړ دي او د پښتنو ليکوالو، اديبانو او غازيانو په ياد غونډې او سيمنارونه جوړول د پښتو ژبې او کلتور خدمتگاران دې ته هڅوي، چې خپلې هلې ځلې لا گړندۍ کړي.

د پښتون/افغان قامي وحدت د لاربنود او د پښتونخوا د قومي پارټۍ مشر محمد افضل خان لالا پښتو ژبې ته نه ستړې کېدونکی خدمت او وخت په وخت د پښتنو د يووالي د اواز د اوچتولو پوره درناوی او ملاتړ کوو.



د ننګرهار د نارنج ګل د مشاعرې د غونډې څنډه ـ ننګرهار ۸/۴/ ۲۰۰۶



د ننګرهار د نارنج ګل د مشاعرې د غونډې څنډه ـ ننګرهار (۸/۴/ ۲۰۰۶

**که سپوره وي، که پوره په شریکه به وي. (باچا خان)**

**Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha Chan)**

**Butterd or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)**



د پښتو ژبې او ادب په میدان کې د ځوانو او تکړه ژورنالستانو خدمت له چا نه پټ نه دی دوی هم د خپلې ژبې او کلتور په خدمت کې پوره ونډه اخیستې ده.

د پښتو لومړنۍ ورځپاڼې وحدت کلتوري او ادبي وحدت ته پوره هڅې کړي او د "خبرونو" ورځپاڼې هم د پښتو په خدمت کې پوره ګامونه اخیستي، نو ددغو اخبارونو چلوونکیو ته لا برې غواړو.

د AVT خیبر تلویزیون د پښتنو لومړنی چینل دی، چې د ۵۰ میلیونه پښتنو لپاره په ۵۶ هېوادونو کې ۲۴ ساعته خپروني لري. هیله ده چې په یورپ کې هم خپلې خپرونې شروع کړي. د خیبر د پښتو ټ! چینل د پښتنو لپاره د یووالي یو قدم دی او د ویاړ ځای دی، چې په خپله مورنۍ ژبه تلویزیون لري. موږ ددې چینل کارکوونکو ته پوره پوره زغم غواړو، چې د پښتو ژبې او کلتور لپاره د نور خدمت جوګه شي.

د "شملې" په نامه د پښتو نوي چینل شروع کېدل هم د پښتو ژبې او کلتور د پرمختګ لپاره نوی زېری دی. هیله ده چې شمله هم زر تر زره خپلې خپرونې پیل کړي او پخپل دغه کولتوري خدمت د پښتنو شمله هسکه وساتي. موږ ددغه ټولو پوره پوره ستاینه او ملاتړ کوو او دوی ته د دوی په بریالیتوب مبارکي وایو.




## V.S.I.P / Responsible for contents

**DR. KABIR STORI**
**RICHRDSTR. 5**
**Wesseling - Germany 50389**
**Tel.: 0049 2236 83463**



## د خپرونې جرګه:

## Redaktion/ Editorial Board

| | |
|---|---|
| **Ali Khan Mahsood** | علي خان محسود (مسېد) |
| **Hedayat Bangash** | هدایت الله خان بنګش |
| **Mabariz Zapi** | خان محمد مبارز ځاپی |
| **Aziz Sarshar** | عزیز سرشار |
| **Nasir Stori** | نصیر ستوری اپسېزی |
| **Gul Ghutai Kunarai** | ګل غوټۍ کونړۍ |